## سامیان

سامیان بومي خلک دي چې په ناروې، سویډن، فنلنډ او روسیه کې ژوند کوي. بومیان دیوې سیمې اصلي خلکو ته ویل کیږي. دا په دې مانا ده چې دوی مخکې له دې نه چې د دولت سرحدونه تعین شي په سیمه کې مېشته شوي دي. سامیان خپل د استوګنې ځای، ژبه، کلتور او تاریخ لري.

د سامیانو شمیر له 60000 څخه تر 70000 پورې رسیږی. په سویډن کې 17000 سامیان، په فنلنډ کې شاوخوا 7500 سامیان، په روسیه کې 2000 سامیان او په ناروې کې شاوخوا 40000 سامیان ژوند کوي. زیاتره سامیان د مالکې غر په شمال او یا په لویو ښارونو لکه اسلو **کې** ژوند کوي.



***د غرڅو دو چرخه چلول***
*څوک لومړي هدف ته رسیږي؟*

*تر ټولو چټک غرڅه په یو ساعت 60 کیلو متر منډې وهي!*

*دلته به د ناروې سیالیو او شمالی سیالیو په لاره اچول کیږي.*

### د سامیانو ملي ورځ

د سامیانو ملي ورځ د فبروري په 6 نیټه دی. په ناروی، سویډن، فنلند او روسیه کې دسامیانو ملي ورځ لمانځل کیږي دا یو عام ورځ دی. دا ورځ د سامیانو لومړی ملي شورا نبنه ده چې د فبروري په 6تاریخ په 1917 کال په تروندهیم کې ترسره شوه. بیا وروسته د ناروې او سویډن سامیان د لومړي ځل لپاره د سامیانو د مسلو و د یوځای کار کولو لپاره لیدنه وکړه.

د سامیانو ملي سرود **سمي سوګا لاولا** نومیږي، دا پدې معنا ده چې دا د سامیانو سندره ده.

په ناروې کې د سامیانو ملي ورځ د بیرغ خاص ورځ دی، اودا ورځ د ناروې یا سامیانو بیرغ سره نبنه شوې او لمانځل کیږي. دا ورځ په ناروې کې په ډیرو ځایونو کې لمانځل کیږي. دا ورځ په ترومسو کې په اونۍ کې یو لړ بیلابیلو فعالیتونو لکه کنسرت او بیا د غرڅو دوچرخه چلولو سره لمانځل کیږي.



Tema Morsmål



## د ساميانو بيرغ

د ناروې، سويډن، فنلنډ او روسيې ساميان يو عام بيرغ لرى.د ساميانو بيرغ بڼه د ساميانو رښتيني ژوند سرګندوي، چې ساميان د لمر زامني او لورګاني دي. په بيرغ کې دايره د لمر او سپوږمی نښه ده.
د ساميانو پارلمان د ساميانو بيرغ په کارولو پريکړه کوي.

***بووريس*** *(بوريس تلفظ کيږي)* *په شمالی سامي ژبه سلام معنی لري.*

***لاوو او پوولک*** *سامی کلمې دي چې موږ په ناروې کې کاروو.*

*د فبرورۍ په شپږمه، موږ وايو:* ***ليهکوو بيووبين!*** *د دې معنا ده: ورځ دې مبارک شه!*

**سامی ژبی**

سامی يوه ژبه نه ده، بلکې د ژبې يوه مجموعه ده چې د يوولسو بيلابيلو ژبو څخه جوړه شوې ده. سامی ژبه د فنلنډ، استونيا او هنګرې بومي ژبه ګڼل شوې ده.

شمالي سامی د ساميانو ترټولو لويه ژبه ده. ساميان په ناروې، سويډن او فينلنډ کې په شمالي سامی ژبه خبرې کوي. سويلي سامی اوس مهال ترټولو يو کمزورې ژبه ده. ، ځکه چې دا ژبه د ډيرو کورنيو ورځني ژبه نه ده. خو لولې سامی ژبه لږ ښه ده، ځکه چې ډېر ماشومان په کور او ښوونځي کې لولې سامی ژبه زده کوي.



*(ليمځي)موزې*



هغه سړی چې سامی جاکټ اغوستې دی. هغه د رسی حلقي سره يو غرڅه نيولې ده. موږ په پس منظر کې يوه خيمه وينو.



دا ښځه چې د پوستکي جامې لري. دا د واورې موټر(سکوټر) چلوي.

Alle bilder er fra Shutterstock



Tema Morsmål